أَذْهِبِ الْبَاسَ، رَبَّ النَّاسِ، وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا» يعني: ناروغي او سختي لرې کړه، اې د خلکو ربه! شفا ورکړه، ته شفا ورکوونکی يې، ستا له شفا پرته بله شفا نشته، داسې شفا ورکړه چې هېڅ ناروغي پاتې نه شي

د مؤمنانو له مور — عايشې رضی الله عنها څخه روايت دی، هغې ويلي: کله به چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ناروغ کس ليدو ته ورته، نو د هغه لپاره به يې دعا کوله، او ويل به يې: «أَذْهِبِ الْبَاسَ، رَبَّ النَّاسِ، وَاشْفِ أَنْتَ الشَّافِي، لَا شِفَاءَ إِلَّا شِفَاؤُكَ، شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا» يعني: ناروغي او سختي لرې کړه، اې د خلکو ربه! شفا ورکړه، ته شفا ورکوونکی يې، ستا له شفا پرته بله شفا نشته، داسې شفا ورکړه چې هېڅ ناروغي پاتې نه شي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

کله به چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ناروغ کس ليدو ته ورته، نو وبه يې ويل: اې الله! (أذهب) بوځه او لرې کړه (البأس) ناروغي او د ناروغ سختي، (رب الناس) اې د خلکو ربه! د دوي خالق او روزونکيه؛ (واشف) شفا ورکړه، (أنت) ته پاک ذات يې، (الشافي) ته يوازينی شفا ورکوونکی يې؛ زه تاته ستا شفا ورکوونکی نوم وسيله کوم، (لا شفاء)؛ شفا نشته، (إلا شفاؤك) مګر ستا شفا او عافيت؛ (شفاء) هغه بشپړه شفا، (لا يغادر) چې نه پريږدي، (سقمًا) هېڅ ډول ناروغي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5542